دَ اُستاذ دَ عظمت په باره کښې نظمونه

# بُنیاد

# زما اُستاذ


لیکوال

**مولانا احمدعلی مردانی**

فاضل جامعۃ العلوم اسلامیہ علامہ محمد یوسف بنوری ٹاؤن کراچی



ناشر

**اسلامی ادبی تولنه**

مردان خیبرپختونخوا

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

# وصلّی اللّٰه علی النّبیّ الامّیّ

# معلّم / اُستاذ

مخلوق کښې هر طرف ته مقدّم دے معلّم
خیرخوا دَ ټولو خلقو په عالم دے معلّم
ورځې ورله دَ درس او تربیت ښۀ طریقه
شاګرد سره کۀ سخت دے هم نرم دے معلّم
سبب دَ خوشحالو دَ هر یو کور دے په جهان
دُنیا کښې ختم کړے هر تورتم دے معلّم
پټ نه دے په کردار کښې ډیر اُوچت لری مقام
زمونږ ددې ماحول جزء اعظم دے معلّم
دُنیا دې ورته اُوګوری پوره پوره په غور
کردار او په ګفتار ښه پوره سَم دے معلّم
هر یو نبی په دې صفت سره دے متّصف

آغاز په ابتدا حضرت آدمؑ دے معلم
زمونږ دَ خوږ نبی ﷺ صفت پوره پوره تمام
نسبت سره په دې وُلے څۀ کم دے معلم
زمونږه خوږ نبی ﷺ دا حقیقت دے دلته کښې
دَ ټول عرب دَ پاره، دَ عجم دے معلم
ماحول کښې خوشبوئی ورسره وی پوره پوره
دُنیا ده ښه خبر په ژوند اهم دے معلم
دُنیا کښې هرطرف ته په هرلور اُوکړۀ نظر
دا درکۀ محترم دے، محترم دے معلم
سائنس دان سیاست دان ورته به ناست وی په ادب
سبب دَ کامیابۍ په هر قدم دے معلم
ورسره ضروری ده هر عمل کښې مشوره
ډیر اهم جزء دَ هر یو کلی چم دے معلم
کوشش ئې تل مدام وی دَ اصلاح پوره تمام
کردار سره هر خوا ته مسلم دے معلم
قائل ئې دَ عظمت دی ټول سلام ورته کوی
ازل نه راروان ښه مکرم دے معلم

احمده! ښه په غور ورته کتے شے ته تمام

یو سیورې دَ رحمت هم دَ کرم دے معلم

# لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیوسف بنوري ټاؤن کراچی

# دَ یو اُستاذ فریاد .......... نظم

زهٔ یو استاذ یمه معمار یم دَ وطن دَ خلقو
تاریخ ګواه دے خدمتګار یم دَ وطن دَ خلقو

زما په وجه معماران د دې وطن پیدا دي
زما په وجه لیډران د هرګلشن پیدا دي

زما نه زده کړه دَ وطن سیاست دان کړي ده
زمانه زده کړه دَ وطن هرقدردان کړي ده

زما شاګرد دے هرسائنس دان دَ زمانې دلته کښې
داس عظیم دلته انسان یم پخوانې دلته کښې

زما شاګرد هریوعالم د دې جهان دلته کښې
زما شاګرد هریو مفتي ښکلي انسان دلته کښې

کوشش زما وي چې هرخواته ښه بدلون راولم
لاروکوڅو کښې رڼاګانې او سکون راولم

په مثبت سوچ سره روان یم قدمونه اخلم
په دې عمل به له الله نه ثوابونه اخلم

خومسئلې راته دَ قوم سیاستدان جوړوي

هغه غټ خیټي ، دَ پیسو سپك لیډران جوړوي
زما باره کښې مخالف دوي میتنګونه کوي
زما په ذات باندې حملې کړي ګوزارونه کوي
غوارې چې ختم کړي سکون زما دَ کور دَ بچو
لکه حملې راباندې دوي کوي مدام دَ مچو
کله آواز کړي زر راجمع شي پنشن ختموُو
وَلې دوي نه وائي په جمع کرپشن ختموُو؟
وعده ئې هریوه دروغ وي حقیقت وایمه
دَ سیاسي خلقو منشور دَ قوم خدمت وایمه
په طمع طمع به ژوندون ستا تیروُی دلته کښې
کار به دې نه کیږی ، بس تا به کړوُی دلته کښې
سَم ددې وخت دی فرعونیان دا حقیقت به مني
ټول خود غرضه لیډردان دا حقیقت به مني
خدائې دې احمده ! ورته تادلته محتاجه نه کړي
معلومه نه ده چې به تاسره بیا دلته څه کړي؟

تحریر : مولانا احمدعلي مرداني

# دَ اُستاذ محترم مقام ........... نظم

وائی اُستاذ نه دا ډنډه واخله
بل خوا پولیس نه هم چوکه واخله
ته ګیله مند ئې له اُستاذ نه هرخوا
دَ پلار له خلې وینا ترخه واخله
بهر دَ ګرم یخ یو ځائې تارونه
لږه د دوی نه هم فائده واخله
صرف په نرمه باندې ښنګ به کیږی
خپله حاکمه! فیصله واخله
سهولت ورکړۀ ښه اُستاذ له پوره
بیا له اُستاذ نه نتیجه واخله
دَ پابندو نه ئې آزاد کړۀ پوره
بیا ترې دَ ژوند جوړه نقشه واخله
احمد! په حق بیان ولاړ دلته دے
دَ کامیابې دا وسیله واخله

لیکوال: مولانا احمدعلی مردانی

# دَ استاذ مقام وعظمت ........ نظم

بیشك علم لوئي دولت دے ، دَ اُستاذ مقام اُوچت دے
ورسره رڼا ، عزت دے ، دَ اُستاذ مقام اُوچت دے
تمنا ئي ترقي وی د دُنیا دَ هر بشر
تمنا ئي ترقي وی دَ هر چا په لر او بر
ورسره ژوند کښې راحت دے ، دَاُستاذ مقام اُوچت دے
بیشك علم لوئي دولت دے ، دَ اُستاذ مقام اُوچت دے
کامیابی غواړی دَ تولو، معلم په حقیقت کښې
مدام دې لری خواهش ، هر بشر لره راحت کښې
ښه عمل دے ښۀ صفت دے، دَ اُستاذ مقام اُوچت دے
بیشك علم لوئي دولت دے ، دَ اُستاذ مقام اُوچت دے
غواړی هر یو معلم ، مینه مینه په هر لور
غواړی هر یو معلم ، مینه مینه کور په کور
ښه ئي فکر دَ امّت دے ، دَاُستاذ مقام اُوچت دے
بیشك علم لوئي دولت دے ، دَ اُستاذ مقام اُوچت دے
رڼاګانې ښوروُل تل ، مدام کار دَ معلم وی
ښل ته نیغه لار ښودل تل ، مدام کار دَ معلم وی
کار ئي قوم ته نصیحت دے ، دَاُستاذ مقام اُوچت دے
بیشك علم لوئي دولت دے ، دَ اُستاذ مقام اُوچت دے

تل دې وی په ژوند خوشحال، دَ احمد ورته دُعا ده
دوی راکړے هرطرف ته دَ ژوندون مونږ ته ښُکلا ده
ښه قاضي دَ عدالت دے ، دَ اُستاذ مقام اُوچت دے
بيشك علم لوئې دولت دے ، دَ اُستاذ مقام اُوچت دے


ليکوال : مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچي

ساکن يونيورسټي روډ خوره بانډه مردان

0312-9818511/03208086524

# اُستاد .............. نظم

راځه چې دواړه يَو شو دَ استاد دفاع دَ پاره
اُستاد دفاع دَ پاره دَ اولاد دفاع دَ پاره
دَ دوی په کوششونو تربيت دَ بچو کيږی
دَ دوی په کوششونو دَ اسلام رڼا خوريږی
دُنياکښې ډهال ئې جوړ شه دَ فولاد دفاع دَ پاره
راځه چې دواړه يَو شو دَ استاد دفاع دَ پاره
ددې وطن خير خوا داسې بل څوك دی په جهان
بيشميره په دُنيا لری اعلا ډير شاګردان
پريږده کينه حسد بغض عناد دفاع دَ پاره
راځه چې دواړه يَو شو دَ استاد دفاع دَ پاره
د دوی په کوششونو طبيبان جوړيږی دلته
د دوی په کوششونو عالمان جوړويږی دلته
انسانه ! يو کيدل نه دی شدّاد دفاع دَ پاره
راځه چې دواړه يَو شو دَ استاد دفاع دَ پاره

دا چا راته ښودلے چې اسلام دَ اسلام نُور دے
دا چا راته ښودلے چې قرآن حسین منشور دے
پوره پوره دَ خپل مقصد مراد دفاع دَ پاره
راځه چې دواړه یَو شو دَ استاد دفاع دَ پاره
احمده ! دَ حالاتو ددې وخت نن ضرورت دے
مقام دَ معلم ښکاره له هر بشر اُوچت دے
دَ ملك دفاع دَ پاره ، ژوند آزاد دفاع دَ پاره
راځه چې دواړه یَو شو دَ استاد دفاع دَ پاره

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی
فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیوسف بنوری ټاؤن کراچی
ساکن یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان
0312-9818511/03208086524

# مُعلّم / اُستاد .............. نظم

خیرخوا زمونږ دَ ټولو دے رهبر دے معلم
پخپله زمونږ ښکلي پیغمبر ﷺ دے معلم
تل دلته تربیت کوی زمونږه دَ بچو
اصلاح د دي امَت کوی زمونږه دَ بچو
پوره پوره له خپل ماحول خبر دے معلم
خیرخوا زمونږ دَ ټولو دے رهبر دے معلم
د دوی نه زده کړے لویو لویو انسانانو
د دوی نه زده کړے ډیر دَ قدر مشرانو
هرخواته دَ هرچا دَ زړګی سر دے معلم
خیرخوا زمونږ دَ ټولو دے رهبر دے معلم
په دوی باندي مئین واړه اولوئي دلته تمام
په دوی باندي مئین دلته خواص دی هم عوام
عظیم ښه محافظ دَ لر او بر دے معلم
خیرخوا زمونږ دَ ټولو دے رهبر دے معلم

دُنیا کښې شاګردان لري  جهازونه چلوُي
دَ وخت حکمرانان لري ، ملکونه چلوُي
یو نوم ښهٔ په دُنیا کښې معتبر دے معلم
خیرخوا زمونږ دَ ټولو دے رهبر دے معلم
د دوي په کوششونو سره ډیر خلق کامیاب دي
قابل دي ډیر درانهٔ دي مستحق دَ هر خطاب دي
سبب دَ خوشحالو دَ هر اختر دے معلم
خیرخوا زمونږ دَ ټولو دے رهبر دے معلم
دَ هر ظلم ظلمت مقابله کوي منم ئې
دَ هر یو مصیبت مقابله کوي منم ئې
ولاړ هر مصبیت ته لکه غر دے معلم
خیرخوا زمونږ دَ ټولو دے رهبر دے معلم
مشفقه مهربانه اے احمده ! په هر چا دے
په ټولو انسانانو کښې افضل غوره بالا دے
مفتی دے ، هم قاري دے ، مقرر دے معلم
خیرخوا زمونږ دَ ټولو دے رهبر دے معلم

# اُستاذ.............. نظم

بې له اُستاذ نه نۀ دُنیا کښې طبیبان جوړیږي
نه په دُنیا کښې عالمان او نه قاریان جوړیږي
ناسته لازم ده هر انسان له چې اُستاذ ته کینی
که سائنسدانان دي اول دوی نه شاګردان جوړیږي
پټکې په سر تړي چې څوك دَ مشرې دعوىٰ کړي
په شاګردۍ سره خو خلق مشران جوړیږي
دَ مجلسونه خپل اثر وي دا هرڅوك ښۀ مني
چې دَ اُستاذ سره کینی نو قابلان جوړیږي
قدر کوي چې دَ استاذ او په اُستاذ پسے څي
هله هغۀ نه ښۀ قابله دَ جهان جوړیږي
اثر دَ ناستې دَ مجلس دَ هر اُستاذ دلته شته
ورسره ښکلې مستقبل دَ هريو ځوان جوړیږي
ډیره خوارئ غوارې نادان سړي ته څه پته ده؟
ډیر دَ محنت نه پس دا لوئې لوئې لیډران جوړیږي
په تسلسل سره محنت چې دَ استاذ کله وي

خوشبو ماحول شي ورسره ښکلي دوران جوړیږي
تول کوششونه دَ اُستاذ دی تاته څۀ چي ښکاری
دا حافظان جوړیږی ، نن چي خطیبان جوړیږی
دَ اُستاذانو تربیت دے بل محنت دَ چا دے؟
دا چي فوجیان جوړیږی دَ وطن سپایان جوړیږی
څکه عزت د دوی ادب دے ضروری دلته کښي
دوی چي خوشحاله وی ، خوشحاله دا جهان جوړیږی
خلاصه احمده ! نتیجه د دي خبرو دا شوه
محنت اُستاذ کوی ، انسان نه ښۀ انسان جوړیږی


# لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان

ساکن یونیورستي روډ خوره بانډه مردان

0312-9818511/03208086524

# اُستاد / معلم .......... نظم

په ادب سره په هر محل چي ياد دے
هغه څوك دے؟ زما دلته کښي اُستاد دے
ښنګ چي دلته کښي خيرخوا زما او ستا دے
دا خيرخوا زمونږ دَ ټولو دَ اولاد دے
عزت مند دے قدرمند دے هر طرف ته
علامت په هر طرف د اتحاد دے
ښه واعظ دے مقرر دے، ښهٔ اديب دے
دَ چا دلته کښي غلام نه دے ، آزاد دے
دَ ظالم مخ نيوه هر خوا ته په جار کړي
مخامخ ورته نمرود دے کهٔ شداد دے
عبث نهٔ لري سوچونه دَ جهان
هر محل ورسره ښکلي دے آباد دے
محترم دے مکرم دے هر طرف ته
نوم پوره پوره په ژوند دَ اعتماد دے
سمندر دَ علم ، نور خوروی دلته
مخالف دَ هر يو شر دَ هر فساد دے

حقیقت دے حقیقت چرته پټیږی
دَ ماحول حُسن ښکلا لره بُنیاد دے
په وجود باندې که ډیر ښکاری کمزوري
ارادے لری مضبوطي ، سم فولاد دے
دَ فساد ښه مخ نیوه کوی دُنیا کښې
مخالف دَ هر یو شر او دَ الحاد دے
تا نه هیر نه دے احمده ! په دُعا کښې
هرساعت درته په هرمحل ښهٔ یاد دے

......................................

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی
نائب صدر آل پرائمری ٹیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان
ساکن یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان
0312-9818511/03208086524

# اُستاد / معلم

## ............ نظم ...............

مدحه کوُمه ښۀ په جار دَ معلم دلته
له چانه پټ نه دے کردار دَ معلم دلته
ورسره اوُسه همیشه چې تا په نیغه بوځي
کړه به نۀ وی چرته لار دَ معلم دلته
خوروُی مینه محبت لارو کو څو کښې مدام
ډیرزیات دَ قدر دے دربار دَ معلم دلته
دَ جهالت دَ هرتورتم دے مخالف ښه پوره
در ته راځي هر یو هوښیار دَ معلم دلته
چې دَالف بې نه آغاز دَ خپل سبق دلته کړي
دا دے محبوب ښۀ عظیم کار دَ معلم دلته
دا مشر، کشر هریشر ددۀ شاګرد پاتې دے
منلي هر بشر وقار دَ معلم دلته

دَ سپکو کار دے چې اُستاد له عزت نۀ ورکوی
مقام منی هم تول اغیار دَ معلم دلته
احمد ته یاد دے نصیحت دخپل استاد خبري
خبري بل ته کړی بار بار دَ معلم دلته

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی
نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان
ساکن یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان
0312-9818511/03208086524

**************

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبتوفیقهٖ
ربّنا تقبل منّا انك انت السّمیع العلیم وتُب علینا انك
انت التوّاب الرّحیم ........وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ
خیرِ خلقهٖ محمد واٰله واصحابه اجمعین.

(دویمه برخه)

# اُستاذ په احتجاج دے

# دَ اُستاذانو احتجاج

؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟

ولاړ دی مخامخ دا خلق نن په احتجاج
انصاف غواړی لتانه هر یو تن په احتجاج
دَ وخت تقاضه نه ده خو مجبوره دغه قوم دے
خبره دا ښه نۀ ده خو مجبوره دغه قوم دے
راجمع په میدان دی مرد وزن په احتجاج
انصاف غواړی لتانه هر یو تن په احتجاج
حاکمه رابیدار شه، دَ خپل قوم نه ځان خبر کړه
دَ کورنه رابهر شه لږ په مونږه هم نظر کړه
دا هسې خو قوم نۀ دے دَ وطن په احتجاج
انصاف غواړی لتانه هر یو تن په احتجاج
تول غواړی ستا نه دلته کښې په جمع خپل حقوق
دُنیا کښې داسې دلته کښې غوښتې شی تل حقوق
ویران نه کړے دا ښۀ ښکلې چمن په احتجاج

انصاف غواړي لتانه هر یو تن په احتجاج
قاضي دې نظر اُوکړي کۀ حاکم کوی خوبونه
دَ خلقو نه چې ډك دی دا سړکونه او چوکونه
خپل حق غواړي لتانه ، هم اَمن په احتجاج
انصاف غواړي لتانه هر یو تن په احتجاج
اُستاذ په احتجاج دے هم معمار ددغې قوم
اُستاذ وی همیشه پوره بیدار د دغې قوم
احمده ! هم وجود دے ستا بدن په احتجاج
انصاف غواړي لتانه هر یو تن په احتجاج

..............................

# احتجاج ....احتجاج .... احتجاج

په جار حاکمه ! درنه صرف بس انصاف غواړمه
نه زۀ جهګړه کوُم ، نه زۀ اختلاف غواړمه
دَ اپګریډیشن وعده تا کړے وه ، دا پوره کړه
وعده دې کړے وه ، هغه خو خامخا پوره کړه
وعده چې ماته کړی ، حدیث دے چې ایمان نه لري

حُسن ښکلا ، قدر قیمت دغه انسان نه لري
کار دَ مؤمن نه دے وعده چې ماتوی دلته کښې
نه ده انسانه ! دَ مولا دا بندګی دلته کښې
بل دَ پنشن په حق کښې نۀ ئې په دې نۀ پوهیږم
حق دَ هر مشر ختموُے په دغې ښۀ پوهیږم
پنشن خو حق دَ مشرې دے دَ خدمت صله ده
د دغې قوم دَ خدمتونو دا ساعت بدله ده
تاسره نیشته محسوسیږی دَ خپل مشر قدر
ستا فیصلو نه معلومیږی دَ خپل مشر قدر
پنشن دې نه دے تا دَ مشر سهولت ختم کړو
په دې سره تا دَ خپل مشر جوړ عزت ختم کړو
خو محسوسیږی چې دَ هر مشر دښمن پوره ئې
بس کۀ مئین ئې نو په څان باندې مئین پوره ئې
نه په اسکولونو کښې پوره دې اُستاذان دلته کړل
نه په سکون دې دَ وطن دا معماران دلته کړل
ظلم او جبر دې شورو ، آخر تر کومه به وی
حق دې خوړلے دَ ورو ، آخر تر کومه به وی

سَم دَ فرعون فرعونیت دوی شوروکړے دے نن
یمه حیران څنګه خدمت دوی شوروکړے دے نن
ماحول ته اُور دوی لګولے دا ترکومه به وی
حکم دَ زُور دوی لګولے دا ترکومه به وی
نیشته دي څوك چي ورسره وی دا عهدي همیشه
نه حکومت وي همیشه ، نه کابینې همیشه
بازار دَ ظلم هربشر له بندول پکار دی
حقدار له حق پوره پوره تول ورکول پکاردی
څوك چي نه غواړی ترقی ،دوی ترقی ورکوی
حیران په دي یم څنګ اُستاذ ته خوشحالي ورکوی
چي څوك ارمان دَ ترقي لري محرومه ګرځی
چي څوك ارمان دَ خوشحالي لري محرومه ګرځی
عیجبه دلته دی زما دَ حکومت فیصلې
زۀ نه پوهیږمه چي څنګ دی دَ حکمت فیصلې
ډیر عیجبه حاکم دے زۀ ورته حیران یمه ډیر
خو زۀ پوهیږمه مظلوم یمه اسان یمه ډیر

زما خلاف ئې دلته هریو فیصله کړے ده
زما خلاف ئې ښه په جار مقدمه کړے ده
وعده ئې هریوه دروغ وه ، خو ریښتیا ماګڼل
ددغې قوم دلته کښې تول پوره خیرخوا ماګڼل
دَ سیاسی خلقو وعدې منمه تول دروغ دی
ماخو ګڼل چې ګنی دلته کښې دا خلق روغ دی
خو دا هم تول دَ استاذونو دښمنان اُوختل
دَ زمانې محسوسومه فرعونیان اوختل
مولا دې خیر کړی بس احمده ! نور چې څه به کیږی
وخت تیریدو سره هرچا ته مشکلات ډیریږی
لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

## دَ سکولونو نجکاری ........نامنظور

په پختونخوا کښې اُوس سکولونه په پیسو خرڅیږی
اشتهارونه راروان دی په ټهیکو خرڅیږی
حالات خراب دی محسوسیږی هم له دې نه پوره
دا خپل ځایونه یَو یَو ، رُو رُو په پردو خرڅیږی

ولے به غم را سره نه وي اٰخر زړهٔ لرمه
زما دَ قوم چې دا ځایونه دَ بچو خرڅیږي
حق دے زما چې احتجاج اُوکړمه زړهٔ ښه پوره
ظلم دے ځائې چې ددې قوم نن دَ ورو خرڅیږي
په هغې قوم ئې خرڅوي چې دَ پیسو خلق دي
په دښمنانو ددې قوم دا په لوټو خرڅیږي
خلق خو ځان نهر ساتی او په تعلیم خرچ کوي
نورتپوس اُوکړه چې دا څومره او په څو خرڅیږي
دَ پښتو نخوا زمکه به نه وي پارلیمنټ به نه وي
بیا به پښتو نه وي ،په جار به دا پښتو خرڅیږي
دا به آغاز وي مستقبل کښې به تورتم راولی
په لږ قیمت باندې به هرڅه دَ ژوندو خرڅیږي
انجام به څه وي دَ پښتو ، دَ پښتونخوا دَ زمکې
ټول ناخبره دي عوام ، دا په دهوکو خرڅیږي
احمده ! دومره په ظاهر لویه خبره نه ده
خو محسوسیږي چې دا هرڅه به رُو رُو خرڅیږي

# احتجاج او دهرنا

## ......... منظوم پیغام..........

تول په شریکه کړے کامیاب دَ پیښور احتجاج
دَ اُستاذانو احتجاج دَ هر نوکر احتجاج
وعده دې خپله کړی پوره دا حکومت مونږه سره
انصاف دې اُوکړی دَ خپل وخت دا عدالت مونږ سره
آئین راکړے مونږ ته حق دَ برابر احتجاج
تول په شریکه کړے کامیاب دَ پیښور احتجاج
دَ اپګریډیشن وعده هغه وُلے تا هیره کړه؟
وعده دې وُلے په دُنیا دَ خپل خیرخواه هیره کړه؟
دَ غیرت مند سړی دے کار دَ هریونړ احتجاج
تول په شریکه کړے کامیاب دَ پیښور احتجاج
زمونږ مقصد نه دے چې اَمن شی برباد دلته کښې
بس دَ استاد چې دلته واوری څوک فریاد دلته کښې
نظر انداز چې نشی دلته د دې در احتجاج
تول په شریکه کړے کامیاب دَ پیښور احتجاج

مقصد ددې نه صرف تاته دي وعده یادوُل
مقصد ددي نه هغه لیك معاهده یادوُل
دَ اُستاذنو چې نن جوړ دے دَ لښکر احتجاج
تول په شریکه کړے کامیاب دَ پیښور احتجاج
ډیر قابلان په کښې سپین ږیری مشران راغلی
ډیر په تکلیف دي احتجاج له بیماران راغلی
ډیر دی مجبوره چې کوی دا په نظر احتجاج
تول په شریکه کړے کامیاب دَ پیښور احتجاج
وعده دې نۀ کوی حاکم چې پوره کولے نشی
خپله وعده په حقیقت چې بدلوُولے نشی
ستا دے احمده ! په تحریر ښه په هنر احتجاج
تول په شریکه کړے کامیاب دَ پیښور احتجاج

..............................................

لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی
نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان
ساکن یونیورستی روډ خوره بانډه مردان
0312-9818511/03208086524

# دَ مدارسِ اسلامیه کردار

## ...................... نظم .................

ترڅو چې وي په ملك کښې آبادې مدرسې
رڼا به ښوروُی چې وی آزادې مدرسې
اغيار به تول رُسوا وی هرطرف ته په دُنيا
اغيار به تول رُسوا وی هر طرف ته په هرخوا
اغيار غواړی چې دلته شی بربادې مدرسې
رڼا به ښوروُی چې وی آزادې مدرسې
دُنيا کښې دَ قرآن دَ خوروُلو ذريعه
اللّٰه سره دَ قُرب پيدا کوُلو وسيله
سوال کومه له اللّٰه نه ، چې وی ښادې مدرسې
رڼا به ښوروُی چې وی آزادې مدرسې
رڼا ښوروُی هر خوا دَ آقا ﷺ دَ فرامين
تعليم ورکوی هر خوا دَ طٰهٰ ﷺ دَ فرامين
شته ډيرې مستند په ښه نوم يادې مدرسې

رڼا به بنوروُی چې وی آزادې مدرسې
احمده ! تعلیمات خوروُی دلته د اسلام
تل غواړی هر طرف ته خوشبوئی په هر مقام
حسین بنکلې ماحول لری دا یادې مدرسې
رڼا به بنوروُی چې وی آزادې مدرسې

لیکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیوسف بنوری ټاؤن کراچی

## (ساکن خوره بانډه مردان)

★★★★★★★★★★★★

تمت بحمد الله تعالیٰ وبتوفیقهٖ
ربّنا تقبل منّا انك انت السّميع العليم وتُب علينا انك
انت التّواب الرّحیم ........وصلی الله تعالیٰ علیٰ
خیرِ خلقهٖ محمد واٰله واصحابه اجمعین.